نظر محمد مطمئن ۲۰۱۷/۰۱/۱۴

# یاغي او د ګډوډیو عاملین څوک وو؟؟

عبدالحکیم مجاهد څه وویل: (یاغي او د ګډوډیو عاملین)

د افغانستان د ستراتیژیکو څیړنو انستیټوټ له لوري په تیرو ځلوېښت کلونو کې د سولې د خبرو ارزونې تر نوم لاندې غونډه جوړه شوې وه، د جدي ۲۳مه ۱۳۹۵ کال د پنجشنبې ورځ ماسپښین دوه بجې او شل دقیقې غونډه پیل شوه، "یاد مرکز" د ۳۲ کسانو سره د سولې اړوند مرکې کړې وې، او دمهمو مرکو او نورو څیړنو یوه مجموعه یې د کتاب په بڼه خپره کړې ده.

دریو ښاغلو ته یکې د خبرو وخت ورکول شوی وو، جنرال محمد ظاهر عظیمي، د دفاع وزارت پخوانی ویاند، مولوي عبدالحکیم مجاهد د سولې شورا پخوانی مرستیال، د سولې شورا غړی او سلاکار او ډاکټر وفایي زاده، د هوا نوردي پخوانی مرسیتال وزیر.

بحث د ډاکټر عنایت مدثر لخوا په مخ وړل کیدی. ښاغلی مدثر پخوا د یو تلویزون د سیاسي بحثونو چلوونکی وو. همدلته هم هغه دا مهم د سولې بحث هغه ډول وړاندې کاوو لکه چې د "یک تلویزون" د سیاسي بحثونو په سټیو کې ناست وي، او غواړي میلمانه په جنګ سره ولویږي.

له لنډې مقدمې وروسته پرته له دې چې د سولې بحث باندې پیل وشي، ښاغلي مدثر مجاهد صاحب ته وویل چې پیل له تاسې کوو، اصولاً باید پیل له وفایي زاده شوی وای، ځکه هغه د "یاد مرکز" غړي او څیړونکی هم دي.

ښاغلي مجاهد صاحب! ولې طالبانو ډاکټر نجیب الله په دار وځړاوو، هغه خو سوله غوښته؟

مجاهد صاحب هم خپل حواس کنټرول نه شوای کړای، او ربښتیا هم دلته چې تر ۲۰ د زیاتو رسنیو خبریالان راغلي وو، ځینو تلویزونو همدا پروګرام په ژوندۍ بڼه خپراوو، داسې سوال چې مجاهد صاحب به یې توقع نه درلودله، په هغه ښه تمام نه شو.

مجاهد صاحب پرته له مقدمې مخامخ وویل: ډیر غیر معقول سوال مو مطرح کړ، داسې لکه چې له یو شي څخه سر او لکۍ پرې کړې، او یا داچې د مسألې پیل او اخر نه وي، له منځ څخه یې را شروع کړئ.

زه وایم چې د کمونستانو نظام کې چې د نورمحمد تره کي، حفیظ الله امین، ببرک کارمل او ډاکټر نجیب الله د حکومتونو پر مهال په میلیونو افغانان شهیدان شول، معیوب او مهاجر شول، هغوی روسان راوبلل، او افغان مجاهد ملت ور سره مقابله پیل کړه، همدوی (افغان کمونستانو) ډیر ستر جنایتونه کړي دي، او ډیر دغه جنایتونه هغه وخت شوي چې ډاکټر نجیب الله د خاد (استخباراتو) رئیس وو. ددغسې لوی خاین په اړه پوښتنه کیږي چې ولې په دار وځړول شو؟ د


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

هغه ملایانو پوښتنه ولي نه کیږي چې له مسجد څخه روسانو او کمونستانو راوایستل او تر نن ورځې ورک دي. د پولیګون د شهیدانو اړوند ولي پوښتنه نه کیږي چې کمونستانو په ژوندون باندی مجاهدین تر خاورو لاندي کړل.
طالبانو د روسانو او د هغوی د ملګرو (کمونستانو) په مقابل کې مقدس جهاد وکړ، کله چې جهاد بریالیتوب ته ورسید، طالبان په خپلو کورونو کې کیناستل، بیرته مدرسو او مسجدونو ته ولاړل، واک یې مجاهدینو ته پرینښودی، ښاغلي صبغت الله مجددي او استاد برهان الدین رباني و نه شوای کولای چې په هیواد کې امنیت راولي، له همدې امله چې ګډوډي وه، او ګډوډۍ هم د استاد رباني د حکومت له امله وه، طالبانو د ملي وحدت لپاره راودانګل.
د استاد رباني په خوله، طالبان مقدسي فرښتي وي، استاد رباني ورسره مرسته کوله، همدې طالبانو یوځل د جهاد په وخت کې قرباني ورکړه، او جهاد کامیاب شو، بیا یې د مجاهدینو د ګډوډۍ مخنیوي وکړ، او هیواد یې له تجزیې څخه وژغوری، او طالبانو د ډاکتر نجیب الله د وژلو پړه هم په غاړه نه ده اخیستې.
زه لیکوال وایم چې د ډاکتر نجیب الله د وژلو عوامل ځیرل په کار دي، چا دا زمینه مساعده کړه چې ډاکتر نجیب الله باید په دار وځړول شي، ولي ډاکتر نجیب الله د استاد برهان الدین رباني په ۴ کلنه دوره کې د کابل څخه د وتلو اجازه ترلاسه نه کړه.
ښاغلي عظیمي وویل چې زه د طالبانو له مشرانو سره یوځای کابل ته راغلم، دلته یې له استاد برهان الدین رباني سره ولیدل، د کابل په انټر کانټیننټل هوټل کې اوسیدل، چې کله بیرته تلل، د استاد رباني لخوا څخه پیسې هم ورکول شوې.
د طالبانو یوه جګپوړي غړي ما لیکوال ته ویلي وو چې کله هم طالبان نه وو رابښکاره شوي، د استاد برهان الدین رباني لخوا کندهار ته یو لوړ رتبه هیئت تللی وو، هلته یې د مجاهدینو ځیني مهم مشران او قوماندانان سره راټول کړي وو، چې تر څو اتحاد او اتفاق وکړي، او د ګډوډیو د مخنیوي لپاره په عملاً لاس په کار شي. د مجاهدینو همدې مهمو مشرانو او قوماندانانو خپل مشر د کندهار د سمي قوماندان معلم فداء محمد (غالباً د مولوي خالص بابا د ګوند غړی وو) خپل مشر وټاکی.
وروسته له دې چې مجاهد قوماندانان اتفاق او اتحاد د معلم فداء محمد په مشرې وکړه، له کابل څخه د استاد رباني لخوا هیأت ورڅخه غوښتنه وکړه چې د حزب اسلامي د مجاهدینو په مقابل کې جګړه پیل کړي، ولي د کندهار د مجاهدینو ټینګار پر دې وو چې جګړه د شمال لور کې د عبدالرشید دوستم په مقابل کې کوي. خو د استاد رباني لخوا ورغلي هیأت ورسره و نه منله، له همدې امله د کندهار مجاهدینو د استاد رباني لخوا رسیدلی پیغام او د هغه د هیأت غوښتنه چې د حزب اسلامي په مقابل کې جګړه وکړي، دا وړاندیز یې رد کړ.
دویم ځل بیا هم ښاغلي عبدالحکیم مجاهد ته نوبت ورسیدی، دا ځل هم په حیرت کې ناست وو، تندی یې ګونځې وو، د قهر فضاء پرې حاکمه وه، بیا یې له سره اعوذ بالله او بسم الله وویله، د قران کریم آیت یې تلاوت کړ، د "یاد مرکز" ددغسې ځیرني مننه یې وکړه، البته اول ځل یې د مدثر جواب مخامخ پیل کړی وو.
مجاهد صاحب وویل چې اصلاً رنځ په هیواد کې افراط دی، اعتماد نشته، د سولې لپاره اعتماد جوړوني ته اړتیا ده، ببرک کارمل به ویل چې د هیواد خاوره مې په کار ده خلک (اشرارا – مجاهدین) مې نه دي په کار.
طالبانو ته لویدیځو رسنیو او استاد برهان الدین رباني فرښتي (ملایکي) ویل، کله چې طالبانو حکومت ونیو، اصل کې ستونزه له همدې ځایه پیل شوه.
د مجاهدینو په نوم امتیازات تر ننه پورې خلک اخلي، حال داچې اصلي مجاهدین د جهاد تر بریالیتوب وروسته مدرسو، مسجدونو او کورونو ته ولاړل.

طالبان د ډاکټر نجیب الله، ملګرو ملتونو او استاد رباني د سولې او واک د ویش په طرحو کې مطرح نه وو (البته عظیمي صاحب ورته وویل چې طالبان د حرکت انقلاب اسلامي محمدي، منصور صاحب او مولوي خالص بابا د ګوندونو غړي وو، او داکسان په یادو طرحوکي مطرح ګوندونه وو).

مجاهد صاحب زیاته کړه، کله چې طالبان په ۱۹۹۴ ز. کال کې را پیدا شوو، تر ۱۹۹۶ ز. کال پورې طالبان یو مقدس حرکت وو، په همدغه دوره کې تاسي رسنی او ټول باید طالبان یو مقدس حرکت یاد کړئ. او بیا وروسته چې واک ته ورسیدل، افراط له دوی څخه هم وشو. واک یې انحصار کړ.

افراط کمونستانو وکړ، افراط مجاهدینو وکړ، افراط طالبانو وکړ او افراط اوسني نظام په تیرو ۱۵ کلونو کې کړی دی، افراط اصلي رنځ ده چې سوله نه راځي.

د فرانسې په چانتیلي ښار کې د سولې اړوند کانفرانس وو، احمد ضیاء مسعود په ډیره سادګۍ پوښتنه وکړه، چې مجاهد صاحب! طالبانو ته کومې مرجع او ملا د خلکو د وژلو او انتحار فتوی ورکړې ده؟

حافظي کمزوري دي، تیر وختونه ژر له یاده ایستل کیږي، احمد ضیاء مسعود به زما خبرې اوري، هغه ته مې وویل چې: د سردار داوود خان حکومت یو مشروع او قانوني حکومت وو، د هغه په ضد چې د پنجشیر څخه کوم حرکت پیل شو، **ستا ورور احمدشاه مسعود ته چا فتوی ورکړې وه چې د داوود خان د نظام په مقابل کې یې بغاوت پیل کړ؟**

دوبمه خبره داده چې طالبانو جهاد وکړ، د جهاد تر بریالیتوب وروسته خپلو مدرسو، مساجدو او کورونو ته ولاړل، حکومت یې تاسي ته در پریښود، ستاسي (جمعیت اسلامي + شورای نظار) او د نورو مجاهدینو ډلو د خپلمنځي جګړو په ترڅ کې چې دا ۶۵۰۰۰ افغانان په کابل کې ووژل شول، **ددې وژنو فتوی او جواز چا درکړی وو؟** زموږ حافظې کمزوري شوی، مجاهدینو افراط وکړ، د واک انحصار یې غوښت، حکمتیار صاحب یې پرې نښود چې په حکومت کې ونده ورسره ولري.

طالبانو هم افراط وکړ، کاش چې مستقل حکومت یې په یواځې ځان نه وای اعلان کړی، ولس ته یې د حکومت کولو بلنه ورکړې وای، له ملا پرته یې بل څوک نه پیژاندی. افراط د طالب د ماتې سبب وګرځیدی، ٪۹۵ ځمکه یې تر واک لاندې وه، ولې بیا یې هم حکومت ونه شو کولای. که طالب انعطاف کړی وای، له سیاسي ډلو او نړیوالو سره یې اړیکې سمې کړې وای، دابه ښه وای.

امریکا سره موږ خبرې وکړې، هغوی ویل چې موږ طالبان په رسمیت پیژنو، ولې افراط او په ځان بسیا انحصار د حکومت هغه پروسه هم ناکامه کړه.

دلته په دموکراسۍ کې هم افراط کیږی، موږ دیموکراسي په چوکاټ کې غواړو، خو افغان رسنی له چوکاټه وتلې دموکراسي غواړي، آیا اوسنی قانون او نظام تاسي ته د منلو وړ دی؟

د بلخ سرپرست والي عطاء محمد نور د عبدالحکیم مجاهد د یادو څرګندونو له امله د هغه زنداني کیدل غوښتي دي، چې ولې یې احمد شاه مسعود د سردار داوود خان د حکومت په مقابل کې یاغي نوملې او د استاد رباني حکومت یې د ګډوډیو اصلي لامل او د طالبانو د ظهور سبب ګڼلی دی. عطاء نور ویلي چې د احمد شاه مسعود روح ته د درناوي له امله دې عبدالحکیم مجاهد زنداني شي.

د "یاد کانفرانس" بشپړه جریان په راتلونکي کې که وخت او ژوند وفاء وکړه، له تاسي ورونو سره شریک کړم. پای

نظرمحمد مطمئن
لیکوال او شنانند